# دغه راتلونکی سوالونه اوجوابونه موبچانوته هتمی یادکړی

## بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيْمِ

**سوال: ته چاپیداکړی یی؟**

**جواب: زه الله ج پیداکړی یم،**

**سوال: ته د چا بنده یی؟**

**جواب: زه دالله بنده یم،**

**سوال: ته د چا امتي يي؟**

**جواب: زه د محمد صل الله علیه وسلم امتي یم،**

**سوال: ته د چا په ملت يي؟**

**جواب: زه دابراهیم (علیه السلام ) په ملت یم،**

**سوال: محمد صل الله علیه وسلم، راشیدین خلفاء څو وه؟**

**جواب: د محمد صل الله علیه وسلم، راشیدین خلفاء څلوروه،**

**۱ حضرت ابوبکرِ صدیق (رضی الله عنه)**
**۲حصرت عمري فَاروق ( رضی الله عنه)**
**۳حضرت عثماني غني (رضی الله عنه)**
**۴حضرت علي (رضی الله عنه)**

**سوال: مذهب څه ته وایي؟**

**جواب: په قران اوسنت دعمل کولولاري ته ویل کیږي،**

**سوال: مذهبونه څو دي؟**

**جواب: مذهبونه څلور دي،**
**۱د امامِ اعظم ابو حنیفه(رحمة الله علیه) مذهب.**
**۲د امامِ شافعي (رحمة الله علیه) مذهب.**
**۳د امامِ مالک (رحمة الله علیه )مذهب.**

Download from:aghalibrary.com

۴د امامِ احمد بنِ حنبل (رحمة الله عليه) مذهب.

سوال: موږ به د چا اطاعت کوو؟

جواب: موږ به د الله (ج) د محمد (ص) او اولی الامر چي کم استنباط د قران او سنت څخه کړی وي، د هغه اطاعت به کوو،

سوال: اولی الامر څوک دي؟

جواب: مجتهدين فقهاءِ کرام دي،

سوال: تقليد څه ته ويل کيږي؟

جواب: د اولی الامر په غيري منصوصي مسائلو کي داسي اتباع کول چي دليل ورڅخه ونه غوښتل سي، دي ته تقليد ويل کيږي.

سوال: ايمان څه ته ويل کيږي؟

جوب: ايمان په لغت کي تصديق اوباور ته ويل کيږي، اوپه اصطلاح کي، په ټولو احکامو د الله (سبحانه وتعالی) او د محمد ( صل الله عليه وسلم) په ژبه اقرار اوپه زړه تصديق کولو ته ويل کيږي.

سوال: ايمانِ مجمل کم ته ويل کيږي؟

جواب: آمَنْتُ بِاللہ كَماَهُوَبِاَسْمائَه وَصِفاَتِهِ وَقَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِهِ وَاَرْكَانِهِ اِقْرَارٌ بِالْلِسَانِ وَتَصْدِيقٌ بِالْقَلْبِ، دي ته ويل کيږي.

سوال: ايمانِ مفصل کم ته ويل کيږي؟

جواب: آمَنْتُ بِاللہِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ مِنَ اللہِ تَعَالَی وَالْبعْثِ بَعْدَالْمَوْتِ، دي ته ويل کيږي،

سوال: پرڅو شانو ايمان لرل لازم دی؟

جواب: پر اوو (۷) شانو ايمان لرل لازم دی،

۱ ايمان پر الله (ج) ،

۲ ایمان پرملائکو،

۳ ایمان پر اسماني کتابونو،

۴ ایمان پر انبیاءِ کرامو،

۵ ایمان پر ورځ داخرت،

۶ ایمان پر ژوند وروسته ترمرګ،

۷ ایمان پر اندازه دخیر اوشر چي دالله (ج) له طرفه ده،

سوال: ایمان په کمو شانو قوي کيږي؟

جواب: ایمان په صالِحو اعمالو قوي کيږي.

سوال: اسلام څه ته ویل کيږي؟

جواب: اسلام، اِلهي احکامو اوشرعي قوانینوته ځان تسلیمولوته ویل کيږي،

سوال: اسماني کتابونه څودي او پرچا نازل سوي دي؟

جواب: اسماني کتابونه څلور دي، اوپرڅلورو انبیاءُ علیهم السلام باندي نازل سوي دي.

۱ تورات پر موسی (علیه السلام) باندي،

۲ انجیل پر عیسی (علیه السلام) باندي،

۳ زبور پر داؤد (علیه السلام) باندي

۴ قران مجید پر محمد مصطفی (صل الله علیه وسلم) باندي.

سوال: موږ د کم کتاب پیره وي کوو؟

جواب: موږ د قرانِ کریم پیره وي کوو.

سوال: قران کریم په څوکاله کي نازل سوی دی؟

جواب: قرانِ کریم په درویشت کاله کي نازل سوی دی.

سوال: قرانِ کریم د چالخوا نازل سوی دی؟

جواب: قرانِ کریم د الله سبحانه وتعالی لخوا نازل سوی دی.

**سوال: قرانِ کریم دچا په واسطه نازل سوی دی؟**

جواب: قرانِ کریم د جبرائل (علیه السلام) په واسطه نازل سوی دی.

**سوال: په قرانِ کریم کي څو سِپاري دي؟**

جواب: په قرانِ کریم کي دیرش (۳۰) سِپاري دي.

**سوال: په قرانِ کریم کي څو سورتونه دي؟**

جواب:په قرانِ کریم کي یوسل اوڅوارلس (۱۱۴) سورتونه دي.

**سوال: دالله (ج) صفات څوډوله دي؟**

جواب: دوه (۲) ډوله دي،

۱ ذاتي صفات ۲ فعلي صفات

اول، ذاتي صفات لکه: سَمْعَ، بَصْرَ، کَلاَمَ، اِرَادَهْ، قُدْرَتْ، حَیاَتَ، عِلْمَ،

داصفات دالله (سبحانه وتعالی) لپاره ثابت دي، الله (سبحانه وتعالی) ددوی پرضِد نه موصوفه کیږي، لکه قدرت چي ضِد یی عجزدی.

دوهم فعلي صفات لکه: تَخْلِیْقُ، اِنْشَا، تَرْزِیْقُ، اِحْیَا،اِبْدَاعْ، اِعْزَازَ، اِذْلاَلَ،

داصفات دالله (سبحانه وتعالی) لپاره ثابت دي، خوالله (ج) ددوی پر ضِد هم موصوفه کیدلای سي، لکه: اِحْیَا، (ژوندي کول) چي ضِد یي مړه کول دي.

**سوال: انسان له څه شي څخه پیداسوی دی؟**

جواب: انسان له خاوري څخه پیداسوی دی.

**سوال: ملائکي له څه شي څخه پیداسوي دي؟**

جواب: ملائکي له نور څخه پیداسوي دي.

**سوال: پیریانان له څه شي څخه پیداسوي دي؟**

جواب: پیریانان له اور څخه پیداسوي دي.

سوال: دانسان روح په کوم ځاي کي موجود وي؟

جواب: په ټول وجود کي موجود وي.

سوال: پيغمبرچاته ويل کيږي؟

جواب: پيغمبر هغه چاته ويل کيږي چي دالله (ج) له طرفه دانسانانو دلارښووني لپاره راليږل سوي.

سوال: زموږپيغمبر څوک دی؟

جواب: حضرت محمد مصطفی (صل الله عليه وسلم) دی.

مولوي وکيل احمد حقمل شاوليکوټی

۱۸/۷/۱۳۹۸

# پای